**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع**: دافغانستان بانک د معلوماتی تکنالوژی لوی آمریت لپاره د امنیتی کمرو، کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو د افغان ګلوبل شرکت ته د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا!

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، د افغانستان بانک د معلوماتی تکنالوژی آمریت لپاره د مختلف ډوله کمرو وسایل او تجهیزاتو چمتو او تدارک کولو پروسه د د افغان ګلوبل شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (0101-12994) شمېرې جواز لرونکی او اصلي استوګنه یې کابل ولایت ، د شهر نو لسمه ناحیه کابل کې دی. د تړون ټولیزه بیه (12,539,050) دولس میلیونه پنځه سوه نه دیرش زره او پنځوس افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 0093(20)2100305/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایتwww.dab.gov.af